ښه خوب لیدل د الله له طرفه دي او بد خوب د شیطان له طرفه، نو که ستاسو څخه یو څوک داسې خوب وویني چې تري ډاریږي، خپل کین اړخ ته دې لاړې تو کړي، او د هغه خوب له شر څخه دې په الله پناه وغواړي، نو هغه ته به زیان نه رسوي

له أبو قتادة رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: "ښه خوب لیدل د الله له طرفه دي او بد خوب د شیطان له طرفه، نو که ستاسو څخه یو څوک داسې خوب وویني چې تري ډاریږي، خپل کین اړخ ته دې لاړې تو کړي، او د هغه خوب له شر څخه دې په الله پناه وغواړي، نو هغه ته به زیان نه رسوي".

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې نېک او خوشحالوونکی خوب د الله له طرفه وي، او بد خوب؛ یعنې داسې څه په خوب کې لېدل چې کرکه تري کوي او خفه کوي یې، هغه د شیطان له طرفه وي. نو که چا داسې ېو څه ولیدل چې کرکه یې تري درلوده، خپل چپ اړخ ته دې لاړې تو کړي او له شر څخه دې په الله پناه وغواړي؛ (که یې داسې وکړل) زیان به ورته ونه لري، ځکه چې الله تعالى یې له شر څخه د سلامتیا سبب ذکر کړی دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3586